مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله اریزی
۲۰۲۱/۱۲/۱۷

# د الکساندر دوما (پلار) په هکله

الکساندر دوما (1802-1870) د فرانسي د نولسمي پېړی تر ټولو ستر ليکوال دی.
د ده تاريخي رومانونه لکه (دري توپکوال، شل کاله وروسته او کنت دومونت کرستيف) دومره نوم لری چي ساری يي نه ليدل کېږي. دوما د (اونوره دوبالزاك) او (اوژن سو) په شان د سريالي رومانونو له لومړنيو ليکوالو څخه دی.
د فرانسي د اوړدو کيسو او ننداړو دغه نامتو ليکوال د 1802م کال د جون په 24 نېټه، له پاريس څخه 80 کيلومتره ليري، د (ويلرکوترت) په يوه نوميالي او شتمنه کورنی کي زېږېدلی او د خپلي کورنی درپيم ماشوم دی.
الکساندر دوما (پلار) د (مارکي آنتوان الکساندر) لمسی او د ناپليون د پوځونو د جنرال (توماس الکساندر داوی دولا پايتريه) زوی دی. دوما د اتو مياشتو و چي پلار يي د پوځي اسرارو د نه ساتلو په تور له دندې گوښه او څلور کاله وروسته مړ شو. په دې څلورو کلونو کي د دوما کورنی خپل شتمنی او لوړ دريځ له لاسه ورکړی وو او مور يي د بېوزليتوب او بوازيتوب له ستونزو سره لاس او گريوان پاته وه.
وايي چي دوه کاله وروسته، د دوما مور (ماري لوئيز اليزابت لا بوره) د فرانسي ستروآکمن، ناپليون بوناپارت، چي د دې د جنرال مېړه له ليرو خپلوانو څخه و، په خپلو ستونزو خبر کړ؛ خو ناپليون په جگړو کي د ډېری بوختيا له امله، له دوی سره څه مرسته ونه کولای شوه. له همدې امله دوما ځوارلس کاله په خپل کلي کي پاته شو او ډېری ستونزې يي وگاللي. دوما په کال 1916 کي په يوه دفتر کي د کاتب په توگه کار پيل کړ او هيله يي درلوده چي له خپلي مور سره به اقتصادي مرسته وکړي.
په کال 1820 کي دوما خپلي زده کړي نيمگړي پرېښودي او د کار په تمه پاريس ته لاړ. د ښوونځي په کلونو کي د ده مور دده د زده کړو له بشپړولو سره ډېره مينه درلوده او په ډېر زيار يي د ده لگښتونه برابرول؛ خو ده له درسونو سره ډېره مينه نه ښودله، يوازې په يوه مضمون (املا او انشا) کي يي پوره نمرې اخستي او ډېر کتابونه يي لوستل.
که څه هم چي دوما په دې وخت کي په يوه کمکی، بېوزله کورنی کي ژوند کاوه؛ خو د پلار نوم او اشرافي اړيکي لا يو څه په ځای پاته وو او له همدې امله په پاريس کي د خپل پلار د يوه خپلوان په مرسته، د دوك اورليان (لويي فليپ) د منشي په توگه وټاکل شو(1822). د دوك اورليان په دفتر يا دربار کي کار، دوما ته موقع برابره کړه چي مقالي او لنډې کيسي وليکي، د تياتر او هنري ننداړو په هکله کتابونه ولولي او خپلي نيمگړې زده کړې بشپړې کړي.
دوما په 1825 کال کي د (ميني او ښکار) او څو نورې لنډې ننداري وليکلي چي ډېرې بريالی نه وې. تر دی وختهلا دوما د خپل کار حدود ښه نه و ټاکلی او د ادبي ژانرونو په مينځ کي لا لهانده و؛ خو دوه کاله وروسته ده خپله لار وټاکله او د ننداړو په ليکلو يي لاس پورې کړ او د (درپيم هانری او دربار) ننداره يي وليکله. دا ننداره چي د کال 1829 د فبرورۍ په دوهمه د پاريس د (فرانسس) په تياتر کي وښودل شوه، دومره په زړه پورې وه، چي دوما يي په خلکو باندې د يوه بريالي ننداره ليکونکي په توگه وپېژاند او (دوك اورليان) د سلطنتي مانۍ د کتابتون د مشر مرستيال وټاکه.
دوما په دی دنده کي د ډېرو سترو ليکوالو کتابونه ښه په دقت ولوستل او د هغوی له افکارو سره بلد شو.
دی ژوري مطالعي دوما دې ته وهڅاوه چي اوږدې کيسي وليکي. (دري توپکوال) د دوما لومړنی اثر و چي د (دوك اورليان) په کتابتون کي وليکل شو..
په همدې کال کي دوما د (کريستان) ننداره وليکله چي د ده نوم يي لوړ او شتمن کړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

الکساندر دوما د فرانسې د کال 1830 په انقلاب کې د جمهوري غوښتونکو مرسته وکړه. کله چې د فرانسې نوی پاچا (لويي فليپ) يا همغه (دوك اورليان) په دې خبره پوه شو، دوما يې د دربار له کتابتون څخه وشاړه؛ خو دوما دا وخت د خپلو نويو ننداړو په برکت دومره شتمن شوی او پيژندل شوی و چې د درباري دندې پرېښودو ډېر خواشينی نه کړ. ځينې دا ننداري لکه، د نل برج (1832) او کاترين هواردګاليکولا (1837) ډېرې بريالی وې.
له لويي فليپ سره مخالفت، دوما د وطن پرېښودو ته اړ کړ. ده د 1834 – 1837 کلونو تر مينځ د سويس يونليك (سفرنامه) وليکه او کله چې په ايتاليا او روسيه وربېښ شو، نور يونليکونه يې هم وليکل. له دې وروسته دوما په خپل کور کې د (کنت دومونت کريستف) د کتاب په ليکلو لاس پورې کړ. دا ستر کتاب چې اتلس ټوکه دی، د فرانسې په ادبي کړيو کې داسې ستره هنګامه جوړه کړه چې د کتابونو خپرونکو يې د خپرېدلو له پاره سيالي پيل کړه. ويل کېږي چې (اګست ماګه) د دوما د سترو تاريخي رومانونو په ليکلو کې مرسته کړې ده.
دوما په 1844 او 1845 کې د (درې ټوپکوال) او (کنت دومونت کريستف) نامتو کتابونه خپاره کړل. دی کتابونو په دوما باندې د ټولنيزې ودې ډېر پراوونه ووهل او دی يې داسې يو شتمن ليکوال کړ چې د پاريس په څنډه کې يې يوه لويه مانۍ واخسته او هلته يې ادبي غونډې پيل کړې.
په کال 1848 کې دوما يوه هنري ټولنه جوړه کړه. ده غوښتل چې د نورو ليکوالو د کلاسيکو هنري او ادبي آثارو د خپرېدلو او ښودلو تر څنګ، خپلې ننداړې هلته وړاندې کړي؛ خو د دغه ټولنې لګښتونه دومره زيات وو چې دوما خپله مانۍ خرڅه کړه او له سترو اقتصادي ستونزو سره مخامخ شو(1850) او بلجيم ته وتښتېد. ده هلته د (زما خاطرې) کتاب خپور کړ چې 22 ټوکه وو. (1852). دوما يو کال وروسته بېرته پاريس ته ستون شو؛ خو د يوې ورځپاڼې او يوې اونيزې د خپرېدو سره – سره يې مالي وضع ښه نه شوه او پوروړی پاته شو!
له دې ماتې څخه وروسته دوما بيا سياست ته مخه کړه؛ خو دا سياست په واکمنو بد ولګېد او دی يې له فرانسې څخه تبعيد کړ.
دوما په کال 1840 کې د تياتر له يوې لوبغاړې سره چې (ايدا فريه Ide Ferrier) نومېده واده وکړ. دوما په دې وخت کې له يوې بلې ښځې (ماري کاترين) څخه يو غيرقانوني زوی هم درلود چې هغه هم الکساندر دوما نومېده او په نړۍ کې د الکساندر دوما (زوی) په نامه مشهور دی او د فرانسې له نوميالیو ليکوالو څخه شمېرل کېږي.
دوما (پلار)، دوما (زوی) په 1931 کې د خپل قانوني زوي په توګه منلی و. دوما( زوی) په 1824 کې زېږېدلی او په 1895 کې مړ شوی دی.
دوما او (ايدا فريد) ژر يو له بل څخه جلا شول او ده بيا يوازې ژوند وکړ.
ليکوالۍ دوما ډېر شتمن کړ؛ خو دی د اشرافی ژوند خوښمن و او ډېرې پيسې يې خرڅولې. هغه وخت چې د لويی فليپ پاچايي پای ته ورسېده، نوي واکمن دوما ته ډېر پام ونه کړ او دی د پوروړو له لاسه روسيې ته وتښتېد او دوه کاله هلته پاته شو. له دې وروسته دوما د ايتاليا (پالرمو) ته لاړ او هلته يې د (جوزف ګاريبالدي) په مرسته په ناپل کې د (خپلواکي) په نامه يوه ورځپاڼه خپره کړه. دوما په 1864 کې بېرته فرانسې ته ستون شو.
فرانسه ډېر نوميالي ليکوال لري؛ خو د دوما (پلار) د لوستونکو شمېر ساری نه لري. دی د رومانيزم ښوونځي د لومړنيو داستان ليکونکو څخه دی؛ خو په ليکنو کې يې رياليستي ځرکونه هم شته.
الکساندر دوما (پلار) د کال 1870 د دسمبر په پنځمه د خپل زوی په کور مړ شو. دی دا وخت 68 کلن و!
دوما 300 کتابونه ليکلي چې د خورا درانه کار ثمر بلل کېږي.
دا کتابونه د نړۍ په ډېرو سترو ژبو ژباړل شوي او 200 فلمونه پرې جوړ شوي دي.
اوس په پاريس کې د دوما کور ته په زرګونو سيلانيان او مينه وال ورځي.
په کال 1970 کې د پاريس مترو يو تمځای د الکساندر دوما په نامه شو او په 2002 کې چې د دوما (پلار) د زېږېدو دوه سومه کليزه وه، د فرانسې دولت د ده مړی (هډوکي) د پاريس په (پانتون) هديره کې خاورو ته وسپاره چې د فرانسې د ملي وياړونو هديره بلل کېږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ